# دَ پطروس رسُول دویم خط

## سلام

١ (١) دَ شمعُون پطروس له طرفه چه دَ عیسیٰ مسیح غُلام اَؤ رسُول دے، دَ
هغه خلقو په نُوم چه زمُونږ دَ خُدائے اَؤ خلاصوُونکی عیسیٰ مسیح په صداقت
کښے ئے زمُونږ په شان قیمتی ایمان مُوندلے دے.

(٢) زمُونږ دَ خُدائے اَؤ مالِک عیسیٰ دَ پیژندګلو په سبب دِ په تاسو فضل اَؤ
سلامتی زیاتیږی.

## دَ ایماندار بلنه اَؤ غوره کیدل

(٣) دَ هغه اِلٰهی قُدرت هغه ټول خیزُونه کُوم چه دَ ژوندُون اَؤ دینداریٔ سره لازم
دی، مُونږ ته دَ هغهٔ په پیژندګلو راکړل چه مُونږ ئے دَ خپل خاص جلال اَؤ نیکیٔ
په وسیله راویللُو، (٤) چه دَ هغے په وسیله هغهٔ مُونږ سره قیمتی اَؤ ډیرے لوئے
وعدے وکړلے، چه دَ هغو په وسیله تاسو دَ هغه نفسانی خرابیٔ نه چه په دُنیا
کښے دی، بچ شیٔ اَؤ دَ خُدائے په شان صفتُونه ولریٔ. (٥) اَؤ په دے وجه تاسو
له خپله انده پُوره کوشِش وکړیٔ چه په خپل ایمان کښے نیکی، اَؤ په نیکیٔ کښے
عِلم، (٦) اَؤ په عِلم کښے پرهیزګاری، اَؤ په پرهیزګاریٔ کښے صبر، اَؤ په صبر
کښے دینداری، (٧) اَؤ په دینداریٔ کښے ورورولیٔ عزیزیٔ، اَؤ په ورورولیٔ
عزیزیٔ کښے مینه زیاته کړیٔ. (٨) ځکه چه که دا خبرے په تاسو کښے وی اَؤ
زیاتیږی نو تاسو به زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح په پیژندګلو کښے بے کاره اَؤ
بے میوے کیږیٔ نه. (٩) اَؤ چه په چا کښے دا خبرے نهٔ وی، هغه ړُوند دے اَؤ
نظر ئے کم دے اَؤ دَ خپلو وړُومبو ګُناهُونو نه پاک کیدل ئے هیر کړی دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۰) نو اَئے ورُونړو! دَ خپلے بلنے اَوْ غوره والی دَ ثابتولو زيات کوشِش کوئ، ځکه چه که داسے کوئ نو هيڅ کله به تيندک ونهٔ خورئ. (۱۱) بلکه دَ دے سره به تاسو زمُونږ دَ مالِک اَوْ خلاصوُونکی عيسیٰ مسيح په آبدی بادشاهئ کښے ډير په عزت سره داخل کړے شئ.

(۱۲) دَ دے دَ پاره به زَهٔ تاسو ته دَ دے خبرے دَ دريادولو دَ پاره تل بيدار اوسم، سره دَ دے چه تاسو دَ هغو نه خبر اَوْ په هغه حق خبره قائم يئ چه تاسو ته حاصله ده. (۱۳) اَوْ تر څو چه زَهٔ ژوندے يم، تاسو ته په دريادولو اَوْ پارولو دا خبره په ځان واجبه گڼم. (۱۴) ځکه چه زمُونږ دَ مالِک عيسیٰ مسيح دَ وينا په مُطابق ما ته معلُومه ده چه زما دَ رُوح دَ کالبُوت نه دَ جُدا کيدو وخت نزدے راغلے دے. (۱۵) خو بيا به هم زَهٔ دا کوشِش کوم چه زما دَ مرگ نه پس به تاسو دا خبرے هميشه يادے وساتئ.

## دَ مسيح جلال اَوْ دَ نبوت کلام

(۱۶) هر کله چه مُونږ تاسو دَ خپل مالِک عيسیٰ مسيح دَ قُدرت اَوْ دَ راتلو نه خبر کړی وئ نو مُونږ په ټګئ دَ ځانه په جوړو کړو قِصو باور نهٔ وو کړے بلکه په خپله مو دَ هغهٔ لوئی ليدلے وه، (۱۷) چه هغهٔ دَ خُدائے پلار نه هغه وخت عزت اَوْ جلال ومُوندو کله چه هغهٔ ته دَ هغه غوره جلال نه آواز راغلے چه "دا زما محبُوب زوئے دے چه زَهٔ ترے راضی يم." (۱۸) اَوْ کله چه مُونږ دَ هغهٔ سره په مُقدس غرهٔ باندے وُو نو دَ آسمان نه مو دا آواز واؤريدو.

(۱۹) اَوْ زمُونږ سره دَ نبُوت هغه کلام دے کُوم چه ډير معتبر دے، اَوْ تاسو ښهٔ کوئ چه په دے وجه په هغے غور کوئ چه دا يوه ډيوه ده کُومه چه دَ تيارے په ځائے کښے رڼا ورکوی، تر څو چه سحر نهٔ شی اَوْ دَ صبا ستورے ستاسو په زړُونو کښے ونهٔ ځليږی. (۲۰) خو ورُومبے په دے پوهه شئ چه دَ کتابِ مُقدس



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دَ نبیانو کلام دَ څۀ خبرے تاویل دَ چا په خپل اِختیار نۀ کیږی. ﴿۲۱﴾ ځکه چه دَ نبیانو دَ کلام هیڅ خبره هم دَ بنی آدمو دَ خواهش په مُطابق کله هم نۀ ده شوے، بلکه بنی آدمو دَ رُوحُ القُدس دَ اثر په وجه دَ خُدائے دَ طرفه خبرے کولے.

## دَ دروغو نبیان اَؤ اُستاذان

۲ ﴿۱﴾ خو په اِسرائیلو کښے دَ دروغو نبیان هم وُو، هم دغه شان به په تاسو کښے دَ دروغو اُستاذان هم وی. هغوئ به په پټه هلاکُوونکی بدعتُونه راویاسی اَؤ دَ هغه مالِک نه به اِنکار وکړی چه دَ هغوئ فدیه ئے ورکړے ده، اَؤ په خپلو ځانُونو به زر هلاکت راولی. ﴿۲﴾ اَؤ ډیر به دَ هغوئ دَ شهوت پرستئ په لار روان شی چه دَ دے په وجه به دَ حق د لارے بدنامی کیږی. ﴿۳﴾ اَؤ هغوئ به دَ لالچ نه خبرے جوړوی اَؤ ستاسو نه به دَ خپلے ځانی گټے سبب جوړوی، اَؤ چه دَ ورُومبئ نه په هغوئ دَ سزا حُکم شوے دے، دَ هغے په راتلو کښے څۀ ډیل نِشته اَؤ دَ هغوئ هلاکت نزدے دے.

﴿۴﴾ ځکه هر کله چه خُدائے گُناه کوُونکی فرښتے پرے نۀ ښودے بلکه جهنم ته ئے واستولے، اَؤ په تورو غارُونو کښے ئے واچولے چه دَ عدالت دَ پاره په قید کښے وی. ﴿۵﴾ اَؤ نۀ ئے پخوانئ دُنیا پریښوده بلکه په بے دینه دُنیا ئے طُوفان راوستو خو دَ صداقت تبلیغ کوُونکے نُوح ئے دَ نورو اُوو کسانو سره بچ کړو. ﴿۶﴾ اَؤ دَ صدُوم اَؤ عموره ښارُونه ئے ملامت کړل اَؤ وئے سیزل اَؤ ایره ئے کړل، اَؤ دَ راتلُونکےزمانے دَ بے دینو دَ پاره ئے دَ عبرت مقام وگرزُولو. ﴿۷﴾ اَؤ صادِق لوط ئے چه دَ بے دینو دَ ناپاک چال چلن نه تنگ وو، بچ کړو. ﴿۸﴾ ځکه چه هغه صادِق چه په هغوئ کښے اوسیدلو اَؤ دَ هغوئ بے شرعے کارُونه ئے لیدل اَؤ آؤریدل نو هره ورځ په خپل صادِق زړۀ کښے عذابیدو. ﴿۹﴾ نو مالِک پوهیږی چه هغه ښنگه دینداران دَ آزمیښت نه بچ کوی اَؤ بدکاران دَ عدالت تر ورځے پورے په سزا کښے وساتی، ﴿۱۰﴾ خو خاص هغوئ چه دَ جسمانی ناپاکو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خواهشُونو پسے ګرځی اَؤ مالِک والے سپک ګڼی، دَ دروغو اُستاذان، ګُستاخه
اَؤ کبرژن دی اَؤ په آسمانی جلالی مخلُوق باندے په بدرد وئیلو نۀ ویرېږی. (۱۱)
سره دَ دے چه فرښتے چه په طاقت اَؤ په قُدرت کښے دَ هغوئ نه لوئے دی، دَ
مالِک په مخکښے دَ هغوئ بدرد وئیلو سره سزا نۀ ورکوی. (۱۲) خو دا خلق دَ
ځنګلی ځناورو په شان دی چه دَ رانیولی کیدلو اَؤ هلاکولو دَ پاره پیدا شوی دی،
دَ کُومو خبرو په باب کښے چه ناخبره دی، دَ هغوئ په باب په نورو بدرد وائی،
هغوئ به دَ ځنګلی ځناورو په شان هلاک کړے شی، (۱۳) دَ نورو سره په بد کولو
به ورسره بد وشی. هغوئ ته په رڼا ورځ عیاشی کول خوند ورکوی، هغوئ بے
عزته اَؤ بے شرمه دی. هر کله چه تاسو سره خوری څښی نو هغوئ په خپل چل
ول کښے عیش و عشرت کوی. (۱۴) هغوئ ښځو ته په بدو سترګو ګوری اَؤ دَ
ګُناه نه نۀ شی آؤړیدے، هغوئ بے قیامه خلق راګیروی، دَ هغوئ زړۀ په حرص
آموخته شوے دے، په هغوئ به لعنت وی. (۱۵) هغوئ نیغه لاره پرېښودله، بے
لارے شوی دی اَؤ دَ بعور دَ زوئے بلعام په لار روان دی چه ئے دَ ناراستئ
مزدُوری غوره وګڼله. (۱۶) اَؤ په خپل قصُور ملامت شو چه یوے بے ژبے
خرے دَ اِنسان په شان خبرے وکړے اَؤ هغه نبی ئے دَ لیونتوب نه منع کړو.

(۱۷) دَ دروغو اُستاذان لکه وچ کُوهیان دی اَؤ داسے وریځے چه سیلئ ئے وړی
راؤړی، دَ هغوئ دَ پاره بے حده تیارۀ ده. (۱۸) هغوئ دَ کبر اَؤ بیهُوده خبرے
کوی، اَؤ دَ شهوت پرستئ په وسیله هغه خلق په جسمانی خواهشُونو کښے
راګیروی کُوم چه دَ ګمراهانو نه په راوتو کښے دی. (۱۹) هغوئ خو دَ خلقو سره
دَ آزادئ لوظ کوی اَؤ په خپله دَ خرابئ غُلامان جوړ شوی دی، ځکه چه کُوم
سړے چه دَ چا نه مغلُوب وی، هغه دَ هغۀ غُلام دے. (۲۰) اَؤ چه هر کله هغوئ دَ
مالِک اَؤ خلاصوُونکی عیسیٰ مسیح دَ پیژندګلو په وسیله دَ دُنیا دَ سخاتوب نه
خلاص شول اَؤ بیا په کښے ګیر شول اَؤ دَ هغوئ نه مغلُوب شول، نو دَ هغوئ
وروستے حال دَ وړومبی نه هم ډیر بد شو. (۲۱) ځکه چه هغوئ دَ صداقت لار
وپیژندله خو هغوئ دَ هغه پاک حُکم نه راوګرزیدل چه هغوئ له ورکړے شوے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو، نو بیا دَ هغوئ دَ پاره دا ښهٔ وه چه چرے هغه ئے پیژندلے نهٔ وے. ﴿۲۲﴾ اَؤ
په هغوئ دا متل رښتینے کیږی چه "سپے دَ خپل قی په طرف راګرزی" اَؤ
"لمبولے شوے خنزیر په خټو کښے رغړی."

## دَ مالِک دَ راتلو لوظ

۳ ﴿۱﴾ زما دوستانو! اوس زَهٔ تاسو ته دا دویم خط درلیکم، اَؤ دَ یادګیرنے په
طور دَ دواړو خطُونو سره ستاسو صفا زړُونه راپاروم، ﴿۲﴾ چه تاسو هغه خبرے
چه پاکو نبیانو وړُومبئ کړی دی اَؤ دَ مالِک اَؤ خلاصوُونکی هغه حُکم یاد ولرئ
کُوم چه تاسو ته دَ رسُولانو په وسیله درکړے شوے دے. ﴿۳﴾ اَؤ په دے له اول
نه خبر شئ چه په آخرو ورځو کښے به داسے ټوقماران راځی چه دَ خپلو
خواهشُونو په مُطابق وچلیږی. ﴿۴﴾ اَؤ وائی به چه "دَ هغهٔ دَ راتلو وعده څهٔ شوه؟
ځکه چه دَ کله نه چه زمُونږ پلار نیکهٔ مړهٔ شوی دی اَؤ دَ هغه وخت نه تر اوسه
پورے هر څهٔ هم هغه شان دی لکه چه دَ مخلُوق دَ شروع نه وُو." ﴿۵﴾ هغوئ خو
په قصد دا هیر کړل چه دَ خُدائے دَ کلام په وسیله آسمانُونه دَ پخوا نه موجُود
دی، اَؤ مزکه دَ اوبو نه اَؤ دَ اوبو په وسیله پیدا شوه. ﴿۶﴾ هم دَ دغه اوبو په
طُوفان سره دَ هغه پخوا زمانے دُنیا غرقه اَؤ هلاکه شوه. ﴿۷﴾ خو موجُوده
آسمانُونه اَؤ مزکه دَ خُدائے دَ کلام په وسیله دَ دے دَ پاره ساتلے شوی دی چه
وسوزولے شی، اَؤ هغوئ به دَ بے دینه خلقو دَ عدالت اَؤ هلاکت تر ورځے
پورے محفُوظ وساتلے شی.

﴿۸﴾ زما ملګرو! دا خبره دِ ستاسو نه هیره نهٔ شی چه دَ مالِک په نزد یوه ورځ دَ
زرو کالو برابره ده اَؤ زر کاله دَ یوے ورځے برابر. ﴿۹﴾ مالِک په خپل لوظ
کښے ډیل نهٔ کوی لکه چه بعضے خلق ډیل ګڼی بلکه ستاسو په باب کښے
صبر کوی، دَ پاره دَ دے چه دَ چا هلاکت نهٔ غواړی بلکه دا غواړی چه ټولو
خلقو ته دَ توبے موقعه ورکړے شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ خو دَ مالِک ورځ به دَ غل په شان راځی، په هغه ورځ به آسمانُونه ډير په
ګړزګړُوز دَ نظر نه پناه شی، يعنے ستوری سيارے به دَ اور په سخت تاؤ سره
ويلی شی، اَؤ مزکه اَؤ په هغے دَ بنی آدمو ټول کارُونه به ختم شی. ۱۱ هر کله
چه ټول څيزُونه هم دغه شان ويلی کيدُونکی دی نو بيا تاسو ته په پاک چال چلن
اَؤ ديندارئ کښے څنګه کيدل په کار دی! ۱۲ اَؤ تاسو دَ خُدائے دَ هغه ورځے دَ
راتلو اِنتظار کوئ اَؤ ښه خواری کوئ چه هغه زر راشی چه په کُومے کښے به
آسمانُونه دَ اور نه وسوزی اَؤ برباد به شی، اَؤ ستوری اَؤ سيارے به له تاؤ نه
ويلی شی. ۱۳ خو دَ هغه دَ لوظ په مُطابق مُونږ دَ نوو آسمانُونو اَؤ نوے مزکے
اِنتظار کوُو چه په کښے به صداقت اوسيږی.

۱۴ زما ملګرو! هر کله چه تاسو دَ دے خبرو په اِنتظار يئ نو دَ دے دَ پاره تاسو
کوشِش کوئ چه دَ هغهٔ په وړاندے دَ سلامتئ په حالت کښے بے داغه اَؤ بے
عيبه يئ. ۱۵ اَؤ زمُونږ دَ مالِک زغم لکه دَ خلاصُون وګڼئ ځکه چه زمُونږ خوږ
ورور پولوس هم دَ خپل ورکړی شوی حِکمت په مُطابق تاسو ته هم دغه ليکلی
دی. ۱۶ اَؤ په خپلو ټولو خطُونو کښے ئے دَ دے خبرو ذکر کړے دے چه په
هغو کښے ځنی خبرے داسے دی چه پرے پوهيدل ګران دی، اَؤ جاهل اَؤ بے
قيامه خلق هغوئ هم دَ نورو صحيفو په شان رابدلوی اَؤ دَ ځانُونو دَ پاره هلاکت
پيدا کوی.

۱۷ زما ملګرو! هر کله چه تاسو دَ اول نه خبر يئ، ځکه بيدار اوسئ چه دَ بے
دينو دَ ګُمراهئ طرف ته ورنهٔ شئ، اَؤ خپله مظبُوطی پرے نهٔ ږدئ. ۱۸ بلکه
زمُونږ دَ مالِک اَؤ خلاصوُونکی عيسىٰ مسيح په فضل اَؤ علم کښے وړاندے شئ.
دَ هغهٔ جلال دِ اوس هم وی اَؤ تل تر تله دِ وی! آمين.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © ۱۹۹۶ عام
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.